## د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د خدماتو لوی آمریت لپاره د اوبلنو ګازو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د رویال عزیزي د ټکنالوژۍ او لوژستیکي خدمتونو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري، څو د خدماتو لوی آمریت لپاره د اوبلنو ګازو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د رویال عزیزي د ټکنالوژۍ او لوژستیکي خدمتونو شرکت ته ورکړي، چې د 91947 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه يې د کابل ښار، څلورمې ناحیې، د شهرآرا برج تر څنګ دی، د تړون ټولیزه بیه – 2,428,470/دوه میلیونه څلور سوه اته ویشت زره څلور سوه او اویا افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.

دافغانستان بانک، ابن سناوات، کابل افغانستان/ تیلفون:0093(20)2104146/ ایمیل /info@dab.gov.af:ویب سایتwww.dab.gov.af
شبکه های اجتماعی فیسبوک – دافغانستان بانک / تویتر / @AFGCentralbank – انستا گرامAFGCentralbank -